# فصلت

**مکی سورة دی ۵۴ آیتونه لری**
**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

حمٓ ﴿١﴾

**حا- میم( په اصل معنی یې الله تعالی او رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی.**

تَنزِيلٞ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾

**دا کتاب( د انسانی پرګنو د هدایت لپاره) د هغه ذات( الله تعالی) له لوری نازل شوی چې رحمت یې له حده زیات او مهربانی یې تلپاتې ده.**

كِتَٰبٞ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾

**( قرآن) هغه کتاب دی چې آیتونه یې( ظاهراً مختصر خو له معنوی لحاظه پکې د بیلابیلو علومو او چارو) تفصیل په پوره وضاحت او فصیحه عربی ژبه د پوهې او معرفت د خاوندانو لپاره بیان شوی دی.**

بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴿٤﴾

**( پاک قرآن خپلو منونکو ته د دنیوی او اخروی فلاح او نیکمرغۍ) زیری ورکوونکی او( مخالفینو او منکرینو ته د ناوړه انجام ) اخطار ورکوونکی دی. خوسره له دغو ټولو حقایقو، بیا هم زیات شمیر( کافران د دغه الهی کتاب له ارزښتمنو نصیحتونو او تعلیماتو څخه په غرور ) مخ ستنوی او( په عاقلانه توګه یې) نه اوری.**

وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ
بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ ﴿٥﴾

**او وایی: زموږ زړونه( د توحید، اسلام او قرآن) له هغه دعوت نه چې ته ورته موږ رابلې، په پوښ کې نغښتی، او په غوږونو مو دروندوالی مسلط دی او زموږ او ستا تر منځ یوه پرده حائل ده نو ته خپل کار کوه( پخپل دین قایم اوسه) او موږ به خپل.**

قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ
فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ وَٱسۡتَغۡفِرُوهُۗ وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٦﴾

ورته ووایه: زه( د کوم بل جنس مخلوق نه یم چې تاسو مې په خبرو پوه نشی بلکه) ستاسو په شان انسان یم او وحې راته کیږی چې ستاسو رب واحد او لاشریک ذات (الله تعالی) دی، نو په پوره اخلاص د هغه حضور ته راوګرځئ او ښښنه ترې وغواړئ، او تباهی او هلاکت دی د مشرکانو لپاره.

ٱلَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْـَٔاخِرَةِ هُمْ كَـٰفِرُونَ ٧

هغوی چې زکات نه ورکوی( خپل نفسونه او شتمنئ نه پاکوی) او له آخرت نه هم منکر دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ٨

خو هغه کسان چې ایمان راوړی او نیک عملونه کوی د تلپاتې او نه قطع کیدونکی اجر او ثواب مستحق دی.

۞ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ بِٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَرْضَ فِى يَوْمَيْنِ وَتَجْعَلُونَ لَهُۥٓ
أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ٩

ورته ووایه آیا د هغه ذات له قدرت نه منکریږئ،او (په ربوبیت کې) ورسره شریکان نیسئ چې ځمکه یې په دوو ورځو کې پیدا کړې، او د ټولو مخلوقاتو او کائناتو پالونکی دی؟

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ مِن فَوْقِهَا وَبَـٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقْوَٰتَهَا فِىٓ أَرْبَعَةِ
أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ١٠

او په ځمکه کې یې مستحکم غرونه جوړ او ګټور منابع یې پکې پیدا کړل او د خپلو مخلوقاتو رزق یې پکې په څلورو ورځو( مرحلو او یا فصلونو) کې مقرر کړ، او د هر غوښتونکی د اړتیا سره سم یې خوراکی مواد پکې برابر کړل.

ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا
قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ١١

بیا یې د آسمان د ایجاد او خلقت اراده وکړه چې صرف یو لوګی و، نو( د کائناتو د ستر نظام د جوړولو لپاره یې) آسمان او ځمکې ته امر وکړ چې که غواړئ که نه غواړئ منځته راشئ، او هغوی دواړو وویل: فرمان ته دې تسلیم او غاړه ایښودونکی یو.

فَقَضَىٰهُنَّ سَبْعَ سَمَٰوَاتٍ فِى يَوْمَيْنِ وَأَوْحَىٰ فِى كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا ۚ وَزَيَّنَّا
ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ ٱلْعَزِيزِ ٱلْعَلِيمِ ﴿١٢﴾

نو له هغه( لوګی نه يې) په دوو ورځو کې اوه آسمانونه جوړ کړل او د هر آسمان اړوندې چارې يې د وحې په ذريعه تنظيم او بشپړې کړې، او د دنيا آسمان يې په څراغونو( ستورو) ښکلی کړ او د شيطانانو( له استراق السمع) نه يې محفوظ وساته، دا دی( پخپلو ټولو اقداماتو) د برلاسی پوه ذات الله تعالی نظم او تدبير.

فَإِنْ أَعْرَضُوا۟ فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَٰعِقَةً مِّثْلَ صَٰعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾

اوس که (کافران)له حقايقو سترګې پټوی نو ورته ووايه اخطار درکوم چې د عاديانو او ثموديانو د مرګونې چيغې (او صرصر د باد عذاب) به درباندې راپريوزی.

إِذْ جَآءَتْهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّا
ٱللَّهَ ۖ قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾

کله چې دغو قومونو ته پيغمبران( هود او صالح) د دوی د ماضی او مستقبل د حالاتو د خبرولو او تنبيه کولو لپاره راغلل( او ورته يې وويل) چې له الله تعالی نه غير د بل چا عبادت مه کوئ، نو د هغوی ځواب ورته دا و چې مونږ ستاسو په دعوت باور نشو کولی، که الله تعالی( مونږ ته د ايمان د بلنې ) اراده لری نو پرښتې دې راوليږی.

فَأَمَّا عَادٌ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَقَالُوا۟ مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ
أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِى خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا
يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾

نو عاديانو په ناروا توګه په ځمکه کې د خپل غرور او تکبر جنډه اوچته کړه او اعلان يې وکړ چې په نړۍ کې تر دوی بل لوی زبر ځواک نشته. آيا نه پوهيږی چې د الله تعالی ذات چې دوی يې پيدا کړی، تر ټولو پياوړی او برلاسی ځواک دی( او دوی په ناحقه پخپل قوت مغرور او) زمونږ له آيتونو او احکامو انکار کوی.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِىٓ أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ عَذَابَ ٱلْخِزْىِ
فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَخْزَىٰ ۖ وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾

**بالاخره مو( د دوی د غرور د ماتولو لپاره) په شومو او بد مرغو ورځو کې سخت یخ او هیبتناک باد ورولیږه( چې انسان او حیوان، ونې او بوټې او کورونه او مانۍ یې له څیرمې په بل مخ واړول) دا یې په دنیا کې د سپکوونکی عذاب یوه مزه وه چې ویې څکله، خو د آخرت عذاب یې تر ټولو لاپسې رسوا کوونکی دی چې د نجات لپاره به ورسره هیڅ مرسته ونشی.**

وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَٰهُمْ فَٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْعَمَىٰ عَلَى ٱلْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَٰعِقَةُ
ٱلْعَذَابِ ٱلْهُونِ بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٧﴾

**بل خوا مو ثمودیانو ته ( د صالح علیه السلام په وسیله) د نیکې لارې لارښوونه وکړه خو هغوی د هدایت په ځای ګمراهی خوښه کړه چې بالاخره مو د ناوړو اعمالو په سزا کې د سپکوونکی عذاب په یوې مرګونې چیغې راونیول( چې د شدت له امله یې د هر یوه زړه وچاود او د هستۍ له صفحې ورک شول).**

وَنَجَّيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَكَانُوا۟ يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾

**او مؤمنان او پرهیزګاران مو ټول(له عذابه)وژغورل.**

وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾

**او هغه ورځ چې د الله تعالی دښمنان اور ته راکښل شی نو( د جرم د نوعیت په نظر کې نیولو سره به په بیلا بیلو ډلو او جماعتونو) وویشل شی.**

حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا۟
يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾

**( کله چې ټول سره را یو ځای او) اور ته رانږدې شی نو غوږونه، سترګې او پوستکی به یې د دوی په ناوړو اعمالو ګواهی ورکړی.**

وَقَالُوا۟ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوٓا۟ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنطَقَ كُلَّ
شَىْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾

او دوی به خپلو پوستکو ته ووایی چې ولې زمونږ په ضد گواهی ورکوئ؟ خو پوستکی به یې ورته ووایی چې( دا گواهی زمونږ د خوښې کار نه دی بلکه) مونږ الله تعالی په خبرو راوستی یو - هغه ذات چې هر موجود ته یې د نطق طاقت ورکړی، او تاسو یې لومړی ځل پیدا کړی یاست او بیا به هم د هغه حضور ته ورگرځئ.

وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَـٰرُكُمْ وَلَا
جُلُودُكُمْ وَلَـٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

او همدا تاسو واست چې( په دنیا کې) به مو خپل گناهونه له خلکو پټول (خو دا فکر مو نه کاوه چې یوه ورځ به مو) خپل غوږونه، سترگې او پوستکی ستاسو په گناهونو گواهی ورکړی، بلکه داسې مو انگیرله چې گواکې الله تعالی ستاسو په پټو چارو، نه خبریږی.

وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِى ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ
ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾

او ستاسو همدغه خام خیال او گومان، تاسو د هلاکت او تباهی کندې ته وغورځولئ او( له ابدی) زیان سره یې مخامخ کړئ.

فَإِن يَصْبِرُوا۟ فَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا۟ فَمَا هُم مِّنَ
ٱلْمُعْتَبِينَ ﴿٢٤﴾

اوس که دوی پخپل حال صبر هم وکړی، هستوگنځی یې دوزخ دی او د بښنې لپاره یې هیڅ عذر هم نه منل کیږی.

۞ وَقَيَّضۡنَا لَهُمۡ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُواْ لَهُم مَّا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ
وَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ
إِنَّهُمۡ كَانُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٢٥﴾

**او (د كفر او طغيان له امله مو) پرېِ داسي (فاسد او بداخلاقه) ملگرى مسلط كړل چې د دوى ماضى او د حال ناوړه اعمال او شهوانى لذتونه يې ورته په نظر كې ښه او معقول وځلول، او د جن او انس د پخوانيو ډلو په شان په عذاب محكوم او( دنيوى او اخروى) زيان يې په برخه شو.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ
تَغۡلِبُونَ ﴿٢٦﴾

**او كافران (خپلو ملگرو او لاسپوڅو ته) وايى چې( د پيغمبر له خولې) قرآن مه اورئ( او د هغه د قرأت په وخت كې) چيغې سورې او شور ماشور جوړ كړئ ترڅو يې (نور خلک هم وانه ورى) او تاسو وربانديِ غالب شئ( او پيغمبر له تبليغه لاس واخلى).**

فَلَنُذِيقَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَذَابٗا شَدِيدٗا وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَسۡوَأَ ٱلَّذِي كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ﴿٢٧﴾

**( الله تعالى فرمايى) چې بې له شكه به مونږ، كافرانو ته د سخت عذاب خوند وروڅكو او دوى به د خپلو ټولو ناوړو كړنو سزا ووينى.**

ذَٰلِكَ جَزَآءُ أَعۡدَآءِ ٱللَّهِ ٱلنَّارُۖ لَهُمۡ فِيهَا دَارُ ٱلۡخُلۡدِ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا
يَجۡحَدُونَ ﴿٢٨﴾

**همدغه اور د الله تعالى د دښمنانو سزا ده چې دوى به پكې تل تر تله پراته وى. هغه سخته او مناسبه سزا چې د الهى آيتونو د انكار له امله ورته وركړى كيږى.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ رَبَّنَآ أَرِنَا ٱلَّذَيۡنِ أَضَلَّانَا مِنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ
نَجۡعَلۡهُمَا تَحۡتَ أَقۡدَامِنَا لِيَكُونَا مِنَ ٱلۡأَسۡفَلِينَ ﴿٢٩﴾

او کافران به( په اور کې) ووایی چې ربه هغه جنی او انسی شیطانان چې مونږ یې( ستا له حقې لارې) منحرف کړی یو، مونږ ته رامخامخ کړه چه د پښو لاندې یې وچقوو، او په ذلت یې (خپل زړونه ساړه) کړو.

إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ
ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي
كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾

یقیناً هغه کسان چې وایی: زمونږ رب الله تعالی دی او بیا( د عمل په ډګر کې هم پخپل دغه حقیقی دریځ ټینګ ودریږی) پرښتې وربانددې نازلیږی( او ورته وایی) مه د ویرې احساس کوئ او مه د غم. تاسو ته د هغه جنت زیری درکوو چې وعده درسره شوې ده.

نَحۡنُ أَوۡلِيَآؤُكُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا
تَشۡتَهِيٓ أَنفُسُكُمۡ وَلَكُمۡ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾

مونږ په دنیوی ژوند او آخرت کې، ستاسو دوستان او مرسته کوونکی یو. څه چې ستاسو زړه غواړی( په جنت کې) درکول کیږی، او څه چې غواړئ ستاسو لپاره حاضر دی.

نُزُلٗا مِّنۡ غَفُورٖ رَّحِيمٖ ﴿٣٢﴾

دا د ښښونکی او مهربان ذات( الله تعالی) له لوری ستاسو میلمستیا ده.

وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ
ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴿٣٣﴾

تر ټولو ښه شخص هغه دی چې خلک د الله تعالی لوری ته رابولی او نیک عملونه کوی( قول او عمل یې د اسلام لوری ته د خلکو د تشویق محرک او وسیله شی) او ووایی زه (د الله تعالی حکم او فرمان ته) غاړه ایښودونکی مسلمان یم .

وَلَا تَسْتَوِي ٱلْحَسَنَةُ وَلَا ٱلسَّيِّئَةُ ۚ ٱدْفَعْ بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا ٱلَّذِي
بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿٣٤﴾

**نیکی او بدی سره یو شان نه ده نو( بدی) په ښه او احسنه توګه دفع کړه پخپله دغه نیکه رویه به ووینې چې ستا سخت سری دښمن به ستا لپاره صمیمی دوست شی.**

وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُوا۟ وَمَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٣٥﴾

**( په نیکۍ سره د بدۍ دفع کولو) دغه نیک خصلت یوازې په صبر کوونکو او هغو (نیکمرغو) کسانو کې لیدل کیږی( چې د ایمان او تقوی) لویه برخه ورکړی شوی وی.**

وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ نَزْغٌ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ
ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

**او که د شیطان وسوسې دې( له دغه غوره خصلت نه لاس اخستلو ته) تحریک کړی نو الله تعالی ته پناه یوسه، بیشکه چې هغه اوریدونکی او پوه ذات دی.**

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟
لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ
إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾

**شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ د الله تعالی د ( ربوبیت او قدرت) له غوره نښانو څخه دی، مه لمر ته سجده کوئ، او مه سپوږمۍ ته. بلکه د عبادت په وخت کې یوازې او یوازې هغه ذات(الله تعالی) ته سجده وکړئ چې د دغو دواړو( لمر او سپوږمۍ) خالق او مؤجد دی.**

فَإِنِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فَٱلَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ يُسَبِّحُونَ لَهُۥ بِٱلَّيْلِ
وَٱلنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْـَٔمُونَ ۩ ﴿٣٨﴾

نو که څوک( د الله تعالی له عبادت نه) په غرور او تکبر سره مخ وګرځوی( باید پوه شی) هغه مخلوقات( پرښتې) چې د الله تعالی په حضور کې دی( او شمیر یې هم یوازې هغه ته معلوم دی) شپه ورځ د هغه ثنا او تسبیح وایی او( په عبادت کې) د ستړیا او ستومانی احساس هم نه کوی.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلْأَرْضَ خَٰشِعَةً فَإِذَآ أَنزَلْنَا عَلَيْهَا ٱلْمَآءَ ٱهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِىٓ أَحْيَاهَا لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰٓ ۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

او ( د الله تعالی د قدرت) له نښانو نه یوه هم ځمکه ده چې وچه کلکه ویده پرته وی خو چې اوبه وربانديې نازلې کړو، نوی ژوند او خوځښت او طراوت پکې پیدا شی، نو هغه ذات چې په وچه مړه ځمکه کې طراوت او تازګی پیدا کوی، د انسانانو په مړو بدنونو کې د نوی روح اچولو طاقت هم لری( او مړه زړونه هم د ایمان او اسلام په وسیله راژوندی کولی شی) ځکه همدغه ذات په هر کار قادر او برلاسی دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِىٓ ءَايَٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَآ ۗ أَفَمَن يُلْقَىٰ فِى ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِىٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ ٱعْمَلُوا۟ مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُۥ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾

هغه کسان چې زمونږ آیتونه تحریفوی ( غلط تأویلات او تفاسیر پکې راوباسی او معناوی یې بدلوی) له مونږ نه پټیدلی نشی. آیا هغه کسان ښه او غوره دی چې په اور کې پراته دی او که هغه چې( په قیامت کې) له اور نه په امن پاتې شی.( ای کافرانو!) څه چې غواړی ویې کړئ( خو باور ساتئ) چې الله تعالی ستاسو د کړنو لیدونکی دی.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِٱلذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۖ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾

هغه کسان چې قرآن ورته راغی او دوی یې په مقابل کې د کفر او عناد دریځ غوره کړ( سخت عذاب به ورکړی شی). بیشکه چې دا قرآن بې مثاله پیاوړی( او نه تحریفیدونکی) کتاب دی.

لَّا يَأْتِيهِ ٱلْبَٰطِلُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِۦ ۖ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾

چې باطل( او تحریف) ورته له هیڅ لوری راتلی نشی او د حکیم او ستایل شوی ذات( الله تعالی) له لوری نازل شوی دی.

مَّا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ لَذُو مَغْفِرَةٍ وَذُو
عِقَابٍ أَلِيمٍ ﴿٤٣﴾

**( ای پیغمبره!) تاته هغه پیغام اورول کیږي چې ستا نه وړاندې نورو پیغمبرانو ته هم ورکړی شوې. بیشکه چې ستا رب هم د زیات مغفرت او هم د سخت عذاب ورکوونکي دی.**

وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ قُرْءَانًا أَعْجَمِيًّا لَّقَالُوا۟ لَوْلَا فُصِّلَتْ ءَايَٰتُهُۥٓ ۖ ءَا۬عْجَمِىٌّ وَعَرَبِىٌّ ۗ
قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هُدًى وَشِفَآءٌ ۖ وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِىٓ
ءَاذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِن مَّكَانٍۭ
بَعِيدٍ ﴿٤٤﴾

**او که قرآن مو د عجمو په ژبه نازل کړی وی نو کافرانو به ویل چې آیتونه یې ولې په( فصیحه عربی ژبه) واضح نه دی بیان شوی؟ آیا عربی (پیغمبر) او عجمی( قرآن)؟ ورته ووایه دا کتاب د ایمان راوړونکو خلکو لپاره سر تر پایه هدایت او شفا دی، او څوک چې ایمان نه راوړی، کاڼه او ړانده دی( او قرآن ورته له روښانتیا سره سره مبهم ښکاری) او داسې دی لکه له کوم لیرې ځایه چې ورته چیغې وهل کیږی( خو دوی یې په معنی او مفهوم نه پوهیږی).**

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَٱخْتُلِفَ فِيهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ
سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَقُضِىَ بَيْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَفِى شَكٍّ مِّنْهُ
مُرِيبٍ ﴿٤٥﴾

**بیشکه مونږ موسی ته کتاب ورکړی و، چې( بنی اسرائیلو) په هغه کې اختلافات پیل کړل( او ډلې ډلې شول، چا ویل حق دی او چا ویل له ځانه جوړ شوی، او ستا د عصر کافرانو هم همدغه لاره نیولې ده) خو که ستا د رب له لوری( کافرانو ته د مهلت ورکولو) کړنلاره نه وی، نو( د هلاکت فرمان به یې لا پخوا صادر شوی وی) ځکه دوی هم د قرآن په باب په سخت شک او تردید کې پراته دی.**

مَّنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا فَلِنَفۡسِهِۦۖ وَمَنۡ أَسَآءَ فَعَلَيۡهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿٤٦﴾

څوک چې نیک عملونه کوی ګټه یې خپله ده او څوک چې د ناوړه عمل مرتکب شی نو هم یې زیان او تاوان خپل دی، او ستا رب هیڅکله هم پخپلو بندګانو ظلم او زیاتی نه کوی.

۞ إِلَيۡهِ يُرَدُّ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِۚ وَمَا تَخۡرُجُ مِن ثَمَرَٰتٖ مِّنۡ أَكۡمَامِهَا وَمَا تَحۡمِلُ مِنۡ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلۡمِهِۦۚ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ أَيۡنَ شُرَكَآءِي قَالُوٓاْ ءَاذَنَّٰكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٖ ﴿٤٧﴾

د قیامت د څرنګوالی او قیام د نیټی علم یوازې له الله تعالی سره دی، او هره میوه چې له پوښ نه راوځی او هره حامله چې حمل اخلی او یا یې زیږوی، الله تعالی ورباندې پوره خبر دی،او هغه ورځ چې( الله تعالی) مشرکانو ته غږ کړی: چیرته دی ستاسو هغه (تش په نامه) خدایان چې له ما سره مو( په ربوبیت) کې شریک ګڼل؟ هغوی به ووایی( مونږ ته حقیقت روښانه شوی) او اعلان کوو چې زمونږ په ډله کې هیڅ داسې ګواه نشته( چې ستا سره په شرک ګواهی ورکړی).

وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَدۡعُونَ مِن قَبۡلُۖ وَظَنُّواْ مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٖ ﴿٤٨﴾

او ټول هغه باطل خدایان به یې له نظره تری تم شی چې دوی به ورته( د الله تعالی د شریکانو په حیث) عبادت کاوه، او اوس به یې پوره باور راشی چې له الهی عذاب نه د تیښتې او نجات هیڅ رو ګودر نه لری.

لَّا يَسۡـَٔمُ ٱلۡإِنسَٰنُ مِن دُعَآءِ ٱلۡخَيۡرِ وَإِن مَّسَّهُ ٱلشَّرُّ فَيَـُٔوسٞ قَنُوطٞ ﴿٤٩﴾

د انسان (عامه نیګړتیا دا ده چې) د خیر او نیکمرغی له دعا هیڅکله نه ستړی کیږی، خو که کوم کړاو او مصیبت ورته ورسی نو بیا (د الله تعالی له رحمته) سخت ناهیلی او مایوس شی.

وَلَئِنْ أَذَقْنَٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنۢ بَعْدِ ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِى وَمَآ
أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ قَآئِمَةً وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّىٓ إِنَّ لِى عِندَهُۥ لَلْحُسْنَىٰ ۚ
فَلَنُنَبِّئَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِمَا عَمِلُوا۟ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ
غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾

**او که مونږ ورته له رسیدلی رنځ او مصیبت نه وروسته خوښی او هوسایی ورپه برخه کړو، نو وایی چې دغه( هوسایی او خوښی) زما مسلم حق دی( او ماته مې د خپل لیاقت او تدبیر په اساس راکړی شوې ده) او د قیامت په قیام هم باوری نه یم خو که (فرضاً قیامت راشی او) د خپل رب حضور ته ورشم نو نیک او غوره امتیازات به راکړی.( الله تعالی فرمایی:) بې له شکه به کافران د هغوی د ناوړو اعمالو په نتایجو خبر کړو او د سخت عذاب خوند به ور وڅکو.**

وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ فَذُو
دُعَآءٍ عَرِيضٍ ﴿٥١﴾

**او کله چې په انسان باندې کوم نعمت ولوروو( نو د خپل حقیقی منعم الله تعالی له عبادت او طاعت نه) مخ اړوی او په( کبر او غرور) له حق نه بې لارې کیږی، خو چه بیا ورته مصیبت او آفت ورسی( نو د له منځه وړلو لپاره یې بې اختیاره د الله تعالی حضور ته) اوږدې اوږدې دعاګانې کوی.**

قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ ٱللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِۦ مَنْ أَضَلُّ
مِمَّنْ هُوَ فِى شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾

**ورته ووایه: ښه فکر وکړئ چې که ( قرآن) د الله تعالی له لوری راغلی وی( لکه چه په واقعیت کې هم رانازل شوی دی) او تاسو یې نه منئ( او له ارزښتمنو او قیمتدارو ارشاداتو نه یې منکریږئ؟) نو له هغه نه بل لوی ګمراه څوک دی چې( د منطق او استدلال نه غیر له الهی احکامو) سره افراطی مخالفت او دښمنی کوی؟**

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ
ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿٥٣﴾

**ډیر ژر به د نړۍ په اطرافو، اکنافو او د دوی په خپلو ځانونو کې داسې نښې نښانې ورښکاره کړو، چې دوی ته به د الله( د ربوبیت او قدرت او د مبارک قرآن حقانیت) ثابت کړي. آیا دا پوره نه ده چې ستا رب( د حقایقو او دلایلو په راښکارولو او بیانولو سره) ګواهي ورکوی( چې د هر شی حقیقی خالق پخپله الله تعالی دی او نور ټول شیان د هغه پیدایښت او هغه ته محتاج دی).**

أَلَآ إِنَّهُمْ فِى مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآءِ رَبِّهِمْ ۗ أَلَآ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍ
مُّحِيطٌۢ ﴿٥٤﴾

**خبردار! دا کافران د قیامت د ملاقات( او د اعمالو د حساب کتاب لپاره د الله تعالی په حضور کې) له احضاریدو نه په شک او تردید کې دی. او خبر دار! چې الله تعالی (د خپل قدرت او علم په وسیله) په ټولو شیانو کامله احاطه او تسلط لری.**

**« تمت سورة الفصلت بفضل الله رب العالمین»**

**==================**